دانترنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !



## نهمه برخه

## دناټوپراختیادختیځ پرلور:

ددوهمی نړیوالی جګړی دپای ته رسیدو سره سم لویدیزوال ( دجګړی ګټوونکی ) هیوادونه دیوی ټولیزی امنیتی سیستم رامنځته کولو اوجوړه ول یې دباخترپربلاک باندی پرتکیه کولوسره ډېراړین وبلل چې دپخوانی شوروي اتحادسره د مخامخ کیدودپاره په کامله توګه سره دغه مسئله ډېره احساسیدله،اوپه هغه شرایطوکې دملګروملیتونوسازمان چې دخپل تاریخ دجوړیدوڅخه په همدی وخت کې ډېره کمزوره وه چې هیڅ هیله اوتوقع دنړیوالوقوانینواومقرراتوپه عملی کولواوپه ترسره کولوکې ورڅخه نه کیدی خصوصاً دیاغی اویرغلګروهیوادونوپه وړاندی چې نړیوال حقوق اومقررات یې تر پښولاندی کول، او هغه وخت هم دغه سازمان بی واکه وو اوپه وسه یې هیڅ شی هم نه ترسره کیدی نو ځکه دشمالی اتلانتیک نظامی سازمان ناټو راوزیږیدی . اوتردغه نامه لاندی :

**«North Atlantic Treaty organization» په (۱۹۴۹ )میلادی کال کې داپریل پر(۴) پرڅلرمه نیټه باندی دیوسیاسی اونظامی اتحادی اوتړون په څیر ددوولسو(۱۲) اروپایی هیوادونولکه انګلستان، هالنډ، بیلجیم او لوکزامبورګ (د بروکسیل دتړون غړي هیوادونه ) ، فرانسه، ایټالیا، ، ډنمارك، ناروي، پرتګال او ایسلنډ، اود دشمالی امریکا، دوه هیواده متحده ایالاتونه اوکانادا دهیوادونو په ګډون اوغړیتوب سره دغه نظامی تړون جوړاورامنځته سو.اوبیا په وروستیو کالنوکې د آلمان فیدرالی جمهوریت ، ترکیه او یونان په دی نظامی سازمان کې غړیتوب یې ترلاسه کړ.**

**دډېرولویدیزپلوڅېرونکودلړلید پربنسټ ناټو په اصلی جوړښت سره دخپلو موخو په تامینولو کې بریالی وواو وی کولای سوای چې دلویدیزی اروپا اودشمالی امریکادهیوادونو امنیت**

**دشوروي دهيواداودختيځې اروپا دهيوادونو دخطر په وړاندې وساتي اوساتنه ورنه وکړي . په همدې ډول سره دشوروي هيواد اودختيځ بلاک هيوادونه هم يوازې نندراه کوونکي نه وه،په (١٩٥٥) ميلادي کال کې د(شوروي اتحاد،ختيځ المان،چکسلواکيا ،پولنډ،بلغاريه،رومانيه مجارستان (هنګرى) اودالباني ) هيوادونه هم دوارسا (ورشو) (Warsaw treaty organisatian) نظامي تړون يې جوړ اورامنځته کړ .اوددې تړون اصلي موخې هم دفاعي اونظامي برابروالي اويووالي دلويديزوهيوادونو(دلويديزبلاک) ديرغل په وړاندې چې دهرغړې هيوادلخوا،څخه دغه يرغل ترسره کيږي اورامنځته کيږي دغه تړون هم د همدې موخې دپاره رامنځته سوى وو .**

**دشلمي پيړى نيمې برخه دناټودنظامي تړون دپاره تيرى کوونکي اويرغل کوونکي دښمن پخواني شوروي اتحاد ګڼل کيدى .اوپه لنډ وخت کې وروسته دناټودجوړيدواودقراردادلاس ليک کولونه ،دمخاليفو بلاکونوترمنځ دغه سورى لوى او ژورسو،اودساړه جګړې په وخت کې دناټوغړي هيوادونه اودوراسا(ورشو) دتړون دغړيوهيوادونوترمنځ (٤٠) څلويښت کاله ډيره تينګه ،زوره،اوځواکمنه دصفونوجوړولواومخامخ کيدل صورت وموند. ديو شميرلويديزپلوه څيرونکوپه هاند اوباور سره ناټووروسته دهغه نه چې پخواني شوروى اتحاد ړنګ سواوپه (١٩٩١) ميلادي کال کې دامنيت ساتنه يې دغړيوهيوادونه دټوليزامنيت په چوکاټ کې د همدې سرليک لاندې دلويديزى اروپادهيوادونو،امريکا اوترکيه يې خپل دکاراودکړنوپه لمريوسر کې يې قرارورکړل،اوددې موخوپه ترسره کولوکې يې اړيني چارې ترسره ،او برياليتوبونه يې ترلاسه کړل چې همدا اوس دنړې ونوروسيموته ځان غزوى اوپراختيا مومي .**

**همدارنګه** دناټوپراختيا دختيځ پرلور اوددې نظامي تړون دددنداوکړنلارو دنوى تعريف په رامنځته کولوسره پراختياموم‌ي، اوس مهال چې شوروي اتحاد نسته مګرځای ناستي يې دروسيې فيدراتيف هيواديي راوپاره ول او روسيه په دې هکله ډيرکلک عکس العمل يې دځانه وښودل، که څه هم دسپټامبرد(١١)يوولسمې نيټې دپيښې رامنځته کيدوراوروسته دروسيې ملګرې اوهمږغه کيدل دامريکا سره دتروريزم پرضد په نړيواله مبارزه کې ،روسيه ودې ته اړ وايستل سو چې دناټودنظامي تړون سره د« روسيي اوناټو» دمرستي په چوکاټ کې په دې نظامي تړون کې برخه واخلې . اوپه همدې توګه سره دمنځني اسيا په هيوادونوکې اودقفقاز دسيمې په هيوادونوکښې دناټووفعاليتونو ته اسانتياوې رامنځته سول ،اوډيرمهم بدلونونه اوپرمختګ دناټو فعاليت په افغانستان کې په «٢٠٠٣» ميلادي کال کې دملګروملتونودسازمان دځواکونو«ايساف» لخوا په دې هيوادکې دقوماندې اخيستل وو.چې په ربښتيا سره دغه لمرنى پيل دناټودفعاليت دپاره په دې سيمه کښې دناټودسنتي سيمې څخه، داروپا بهر ګڼل کيږي . برسيره پردغوپرمختګونوباندې ،دتوجووړتکې خودا دې چې دناټونوي فعاليتونه په خاص ډول سره دايران په امنيتي سيمه کښې رامنځته سوي دي .ددې مسئلې ارزښت ايجابوي چې دغه موضوع دمختلفواړخونوڅخه ترڅيرنې لاندې ونيول سي ځکه چې دناټودفعاليتونوپه اړه څيړنه يې اړين اوپه دې هکله موضوعات يې هرومر بايد ارايه سي چې دناټودفعاليتونواغيزه په سيمه کښې اوخصوصآ پرايران باندې به څنګه وي ؟ بايد ترڅيرنې اوپاملرنې لاندې راسي په دې هکله دناټونوي پرمختګونه اونوى استراتيژې ،کړنلاره اوفعاليتونه په سيمه کښې په څه ډول باندې دي ؟،نوددې څيرنې پربنسټ په دريو برخو باندې ويشل سويدې . په لمړى برخه کې د«نوى ناټو» ترسرليک لاندې چې دناټو سياستونه اونوي شرايط څيړل سوى دي په لاندې ډول سره يې لولو:

## لمړى برخه « نوي ناټوپه نړيوالومعادلاتوکښې » :

تر دې سرليک لاندې ددې تړون وضعيت وروسته دشوروى اتحاد دړنګيدوڅخه اوپه دې تړون کې داړينوبدلونوداړتيا اودهغه تطبيق دنړې په نويو شرايطوکې اوپه دې اړه خصوصآ دامريکااواروپااړيکې وروسته دساړه جګړې نه اودامريکائيانوتينګارپراروپايي هيوادونو باندې

دنویومسؤولیتونوپه منلوسره،دامریکا هیواد ددی غوښتونکی سو چې اروپایی هیوادونه بایددناټوپه دی سیاست او نوی پیل کې دمالی اوعملیاتی له کبله ډېره برخه پرخپله غاړه باندی واخلی ،دبله خوا نه ناټوددغه نوي فعالیتونوپه وړاندی کولوسره دیوشمیر هیوادونوعکس العملونه یې هم رامنځته کړ، اوپه همدی ډول سره دروسیی هیوادیې هم راوپاره ول چې په نتیجه کښې په دی مورد کې متضاده لړلیدونه یې دناټودغړیو هیوادونه په منځ کې اوپه روسیه کې دسیاسی محافلوپه منځ کې ودی نظامی تړون ته دروسیی دکامل ګډون او دغړیتوب په هکله یې حساسیتونه هم دننه په روسیی کې اوهم بهر دروسیی نه رامنځته کړ ،اوټلواله په دی اړه داهسی نتیجه ترلاسه کوي اووایی چې دروسیی هیواد په دی تړون کې دغړیتوب دپاره تراوسه پوری اړین اوپوره تیاری اوامادہ ګی نه دروسیی په دننه کې اونه په ناټوکې ،روسیی ته وجودلری اوناټووایی روسیه دم ګړی ددی تړون غړیتوب نسی ترلاسه کولی ترڅونوموړی شرایط ترسره اوپوره نکړی .

## دوهمه برخه «دروسیی دریځ اودهغه بهرنی سیاست دناټوپه وړاندی» :

داچې دروسیی دبهرنی سیاست اودهغه پیژنده دناټو دپراختیا دپدیدی په وړاندی څیړل کیږی . دمختلفوارزښتونوښه والی اوپه عین وخت کې دروسیی اودناټوترمنځ ګډی موخی ددی سبب ګرځیدلی دی ترڅوډول ډول سناریو ددی دواړورنړیوال لوبه کوونکو ترمنځ دوه اړخیزی اړیکی رامنځته سی .ددی استدلال پربنسټ باندی دروسیی پربهرنی سیاست باندی واکمن ژئوپولټیکی پیژندنه دیوی خوانه اودروسیی عملی کړنی دبله خوا نه اصلآددی سبب ګرځیدلی دی ترڅوپه ختیځ کې دناټودپراختیا څخه مخنیوی وکړی او دغه پراختیا ته خنډ وګرځي اوپه هغوسیموکښې ددی نظامی امنیتی تړون دنفوذ مخه ونیسی چې روسیه خپل دحائلی سیمی په توګه یې بولی .

## دریمه برخه « دروسیی اودناټوترمنځ په اړیکو کې نوي استراتیژیک چوکات » :

دغه برخه دروسیی اودناټوترمنځ داړیکوپه څیړنه کې تربحث لاندی نیول سویدی چې دناټواوروسیی مرستی دروسیی اودناټودشورا په چوکاټ کې څنګه ترسره کیږی او ددی مرستواغیزه پردواړوخواو«روسیه اوناټو» باندی یو دبله سره په مرستوکې څه ډول اغیزه یې رامنځته کړی دی . په رښتیا سره دسپټامبر دیوولسمی (۱۱) نیټی دپیښی څخه را وروسته دترووریزم پرضد په نړیواله مبارزه کښې دمرستونوی دکارمیتوددروسیی اودناټوترمنځ رامنځته اومطرح سویدی . اود اروپایی ،امریکایی،اوروسیی دریولړلیدونوله کبله دروسیی اودناټوپه اړه دوه اړخیز ی مرستی اوموافقی سره رامنځته سویدی .

همدارنګه «دناټو شتون دایران په امنیتی سیمه کښې »ډېره مهمه مسئله ګڼل کیږی چې دناټودسیاستونودپیل اغیزه دایران په امنیتی سیمه کښې په څه ډول سره دی،په ښکاره توګه سره ویلای سوچې «دنوي ناټوزیږیدل اودهغه دکړنواغیزه پرایران باندی» چې دناټو دنویوفعالیتونواغیزه دنوي غړیومنل اوګډون اودهغو طرحواجرا کولوداسیا دسولی دپاره دګډون څخه عبارت دی .اوپه همدی توګه سره دناټوشتون دقفقازپه سیمه اوپه افغانستان کې هم ددی سبب ګرځیدلی دی چې دغه نظامی تړون په خپل مهموپرمختګونواوپراختیا سره په یوه عملیاتی سیمه اوحوزه کښې داروپا بهراو دباندی ویوبل پراوته ورننوځي دناټوګاونډیتوب دایران سره برسیره پری دی چې ترکیه دناټودرسمی غړی په توګه چې دایران دشمال او دختیځ ګاونډیو هیوادونه څخه هم عبارت دی ،چې ددی سبب ګرځیدلی دی

ترڅوديډول داړيکودتاميندلويواړين کوردينه سوی اوياپه رسمی توګه سره اړيکی دايران اودناټوترمنځ دتوجو وړ وګرځي .

## پرايران باند ی دناټودپيل اغيزه:

په اوسنی شرايطوکي په داهسی حال کي چي دټوليز لړليد له مخی په سيمه کښي دناټوفعاليت دايران دګټوسره سم ندی اوپه ايران کي ديوی ټوليزی لړليدپربنسټ چي ددی هيواد داوسيدونکولويه برخه دناټونظامی ټرون دامريکا دهيواد ترلاس اوتروا‌ک لاندی بولی اودناټوددی کړنوپروړاندی عکس العملونه رامنځته سويدی اوسربيره پردی هم کولای سو ووايو چي دناټويوشمير پيل اوکړنی په سيمه کي دايران دسياستونوسره يوشان اودهغه دسياستونوپه وړاندی هغسی کړنی ويلی سو . چي دناټودلمړی درجه غړی هيوادونونظامی شتون دفارس په خليج اودعمان په سندکي اودايران دسويلی ګاونډيوهيوادونوسره ديوشمير دپردفاعی تړونونو رامنځته کيدل اودايران په شمال کي دناټوداړيکو پراختيا دمستقيل اوګډوګټوهيوادونوسره لکه داذربايجان دجمهوريت سره، يوه ښه بيلګه دناټواودهغه دلمړی درجه غړيو هيوادونوشتون بللی سوچي دايران دپولو(سرحداتو)په اوږدوکي دی په همدی ډول سره څرګنده يي کړو . اودغه امر کولای سی ديوګواښ ترسرليک لاندی دايران داسلامی دولت دامنيت په وړاندی وګڼل سی . دبله خوانه دامريکا اودهغه دملګروهيوادونو وسله وال او مالی ملاتړ دعراق دهغه وخت ددولت د(صدام حسين )سره دايران اودعراق ترمنځ په جګړه کي،اودناټودلويه برخه داصلی غړيوملاتړدايران ددولت دمخالفوډلواوګروپونوسره لکه د(مجاهيدين خلق )سره ،اوديوشمير غړوهيوادونوملاتړدفارس په خليج کي دعربی متحده اماراتودخاوری اوداراضی دادعاپه هکله دتومبی صغير اوتومبی کبيرپرټاپوګانواوپرجزايرو باندی،اودبشری حقونوڅخه تيری اوسرغړونی دايران لخوا تر دغه سرليک لاندی ديوسياسی فشارد اهرم په توګه ،اويا داچي ايران د اټومی اوهستوی ټوليز وژنو دوسلوپه جوړه ولوسره تورن کوي اويا وايی چي دايران دولت دتروريزم څخه ملاتړ کوی ،دادهغه مسائلودجملی څخه دي چي ناټواودناټوغړی هيوادونه ايران په همدی کړنوسره تورنه وي اوپه دی پاملرنی سره دايران وسميه يزامنيتی شرايطوته يوګواښ ويلی سی او کيدی سی دغه ګواښونه چي دناټو لخواايران ته متوجی دي دباوراواعتمادپه رامنځته کولواود دوواړخيزو مرستوپه تعريفولو سره ددغه رامنځته سوی ګواښونوڅخه دباندی اوبهرراووځي .

## په افغانستان کي دناټوشتون او دايران ددولتی مشرانوانګيرنه :

يولړوړانديزونه دايران لخوا په افغانستان کي دناټودکړنوپه هکله رامنځته سوی دی اوناټو په افغانستان کي خپل دشتون او دکاراوفعاليت په اړه دملګروملتونودسازمان دپريکړی دمخی اودهغه دسولی ساتی،دځواکونواوسربازانودقوماندانی په چوکاټ کي ، نوموړی تعريف وړاندی کوي . اودغه مسئله هم يو دهغومهمموضوعاتواومسائلودجملی څخه وو چي دناټوپه سرمشريزه غونډه کښي په (۲۰۰۶) ميلادی کال کي دلتونی په پلازمينه دريګا په ښار کي دناټودغړيوهيوادونود مشرانو لخواترڅيړنی لاند ی ونيول سو.
دناټوفعاليت په افغـــانستان کي يو دهغومسائلودجملی څخه دی چي دايران ددولتی مشرانو ډېر دتوجووړ دی اودايران دولت داهسی شکمن سوی دی چي په افغانستان کي دناټو شتون ګواکی دايران وامنيتی ګټو ته ګواښ دی اوممکن دناټو ددی دومداره شتون له کبله په راتلوونکی کي دايران دولت دپرابلمونواوستونزوسره مخامخ سی . /

(نوربيا،په لسمه برخه کي ادامه لري)

**اخيځليک :- دايسنا نيوز څخه ،او د military.ir څخه .**